څوک چې له ښکاري او یا د رمې ساتنې له سپي پرته بل کوم سپی وساتي نو هره ورځ به یې له اجر (د عمل له ثواب) څخه د دوه قیراطونو په اندازه ثواب کمیږي

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله وفرمایل: «څوک چې له ښکاري او یا د رمې ساتنې له سپي پرته بل کوم سپی وساتي نو هره ورځ به یې له اجر (د عمل له ثواب) څخه د دوه قیراطونو په اندازه ثواب کمیږي» سالم وایي: او ابو هریره به ویل: «أَوْ كَلْبَ حَرْثٍ»یعنې «یا د کروندې دساتنې سپی»، حال دا چې (ابوهریرة) د کروندې خاوند و.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي له سپي ساتلو څخه منع کړې ده، مګر د ښکار، د څارویو یا د کروندو د ساتنې د اړتیا لپاره، او که څوک یې بې له دې موخې پرته وساتي، د هغه د عمل له ثوابه به هره ورځ دوه قیراطه کمیږي او دا اندازه الله تعالی ته معلومه ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2994